
# د ادرار د مجرا عفونتونه یا انتانات (UTIs)

د شکمن UTI لرونکو لویانو لپاره یوه لاربنود پاڼه

TARGET

Keep Antibiotics Working

## UTI څه شی دی؟





**د ادرار د مجرا انتان (UTI) هغه مهال رامنځته کیږي چې باکتریا د ادرار سیستم په کومه برخه کې د نښو نښانو لامل شي.**

تشخیص په عمده توګه د نښو نښانو له مخې کیږي. د ادرار ډیپسټیکس یوازې تر 65 کلونو کم عمره ښځو کې له کیټیټرونو پرته کارول کیږي.

## د UTI د مخنیوي په برخه کې مرستې لپاره څه کولی شئ؟

**ایا تاسو کافي اندازه څښئ؟ د خپل ادرار رنګ وګورئ.**




په کافي اندازه مایعات وڅښئ (6-8 ګیلاسونه) چې په دې ترتیب د ورځې په جریان کې په منظم ډول ادرار وکړئ او د تندې له احساس څخه مخنیوی وکړئ، په ځانګړې توګه په ګرمه هوا کې.

ستاسو مثانه کیدای شي د ډیر الکول، ګازي څښاک یا کافین په وسیله تخریش شي.

له قبضیت مخنیوی؛ که اړتیا وي مشوره وغواړئ.

که د شکر ناروغي هم وي، د وینې د شکر کچه ښه کنټرول وساتئ.

**له خپلو کولمو څخه مثانې ته د باکتریا د خپریدو مخه ونیسئ:**

- تناسلي ساحه پاکه او وچه وساتئ؛ له بوی لرونکي صابونونو څخه ډډه وکړئ
- بې کنټروله پډونه معمولاً بدل کړئ او تناسلي ساحه پاکه کړئ، که خاورې پرې وي
- تر جنسي فعالیت وروسته ادرار وکړئ
- ښځې باید تر جنسي فعالیت مخکې او وروسته د مهبل بهرنۍ برخه په اوبو سره ومینځي او تر تشناب کارولو وروسته له مخې لورې شا لور ته تناسلي ساحه پاکه کړئ.

**که تکراري UTIs لرئ،**

ډې مانوس (D-mannose) یا د کرینبیري غذایي بشپړوونکي موارد ممکن له ځوانو ښځو سره مرسته وکړي

د UTIs د مخنیوي څرنګوالي په تړاو د سلا مشورې لپاره له خپل فارمسست یا عمومي ډاکټر سره خبرې وکړئ

## کومې نښې نښانې باید په پام کې ونیول شي؟

**په ټولو لویانو کې عوارض\نښې نښانې:**

- د ادرار پر وخت د سوځیدنې درد
- د شپې ادرار ته بیا اړتیا
- ادرار وریځې ته په ورته رنګ وي
- تر معمول ډېر ځله ادرار کول
- سمدلاسه د ادرار کولو اړتیا احساسول
- په ادرار کې وینه
- ستاسو په ښکتني نس کې درد

**که کتیتر لرئ، دغه نښې نښانې په پام کې ونیسئ:**

- لړزه یا ښورېدل
- لوړه یا ټیټه تودوخه
- تر پښتیو لاندې په شا کې د ګوردو درد


**په زړو او کمزورو لویانو کې د UTI نښې نښانې:**



- تر معمول ډېر ځله د ځان لمدل



- نوی یا ډېر ګډوډی، په چلند کې بدلون یا په پښو کې بې ثباتي



- لوړه یا ټیټه تودوخه



- لړزېدل یا ښورېدل

**د ادرارو نښې نښانې دغه راز د لاندې مواردو په وسیله هم پیښېدی شي:**

- تر جنسي فعالیت وروسته درد یا ناراحتي
- له جنسي اړخه لېږدېدونکي انتان (STI)
- د میاشتنې عادت پرمهال یا وروسته د مهبل بدلون

**نور شیان چې په لویانو کې د ګډوډۍ لامل کېدی شي:**

- درد
- قبضیت
- کمزوري خواړه
- ټیټ مزاج
- څښاک نه کول
- کم خوب
- د درملو جانبي اغېزې
- بل انتان
- په معمول یا د کور چاپېریال کې بدلون

## د کوویډ-19 نښې نښانې په پام کې ونیسئ:

که فکر کوئ چې ښايي کوویډ-19 ولرئ، نو په مهربانۍ د خورا وروستي لاربنود معلوماتو لپاره **http://www.gov.uk/coronavirus** یا **http://www.nhs.uk** ته مراجعه وکړئ.

که د کوویډ په اړه اندیښمن یاست نو له NHS111، فارمسست یا خپل عمومي ډاکټر سره خبرې وکړئ

## ستاس د بنه احساس کولو لپاره څه شی ترسره کېدی شئ؟

### تاسو څه کولی شئ؟

- په کافي اندازه مايعات وڅښئ څو د ورځې په جريان کې په منظمه توګه سور ادرار وکړئ، په ځانګړي توګه په ګرمه هوا کې
- پاراسيټامول په ورځ کې 4 ځله د درد کمولو لپاره په منظم ډول وخورئ
- اوس مهال هيڅ داسې شواهد نشته چې د UTIs درملنې لپاره د کرينبيري محصولاتو يا سيسټايټس ساچ خوړلو ملاتړ وکړي.

### ستاسو فارمسست\نرس\ ډاکټر څه کولی شي؟

- ځان ته د پاملرنې مشوره درکړي او د درد کمولو مشوره درکړي (پاراسيټامول يا ايبوپروفين)
- د تسټ لپاره له تاسو څخه د ادرار نمونې غوښتنه وکړي
- ممکن سمدلاسه انټي بيوټيک درکړل شي يا که مو نښې نښانې ښې نه شي يا لا بد احساس وکړئ، نو ويې کاروئ
- تاسو ممکن بل روغتيايي خدمت کوونکي ته راجع شی

## که تکراري UTIs لرئ او ځان ته د پاملرنې اختيارونه مرسته نه کوي:

- د شپې يا تر جنسي فعاليت وروسته انټي بيوټيکونه تجويز کيدی شي
- د مهبل هورمون درملنه ممکن تر مياشتنې عادت وروسته له ځينو ښځو سره مرسته وکړي

### د انټي بيوټيکو په تړاو توصيه

- انټي بيوټيکونه د ادرار د جدي انتاناتو لپاره د ژوند ژغورونکي کيدی شي، خو انټي بيوټيکونه تل د ادرار د معتدلو نښو نښانو لپاره اړين نه دي.
- انټي بيوټيک د هغې باکټريا پر وړاندې ستاسو بدن مقاوم کوي چې ممکن د راتلونکي UTI درملنه ستونزمنه کړي.
- د انټي بيوټيکونو د خوړلو عامې جانبي اغيزې عبارت دي له خولې، خارش، کانګې او اسهال؛ که انديښنه لرئ سلا مشوره وغواړئ
- د انټي بيوټيکونو کارنده توب ته دوام ورکړئ، يوازې هغه وخت يې وخورئ چې ستاسو د روغتيايي پاملرنې متخصص دوی ته مشوره ورکړي

هغه مهال د انټي بيوټيکونو خوړل چې ورته اړتيا نه لرئ، تاسو او کورنۍ مو په خطر کې اچوي

## څه وخت باید نوره عاجله مرسته وغواړئ؟

**باید له یوه روغتیایي متخصص سره مشوره وکړئ، که د UTI نښې او لاندې مورد لرئ:**

- نښې مو لا ډېرې خرابېږي یا د انتي بیوتیکونو د پیلولو په 2 ورځو کې نه ښې کېږي
- مېندواره، نارینه یاست یا مو عملیات پای ته رسېدلی

**لاندې نښې نښانې د ادرار د جدي انتان احتمالي نښې نښانې دي او باید په بیړنۍ توګه وارزول شي:**

لړزه، توخی او د عضلاتو درد

د ډېرې ګډوډۍ، خوبولي یا ناروښانه خبرو کولو احساس کول

تولې ورځ ادرار نه کول

تودوخه تر 38°C ډېره یا تر 36°C ټیټه

په تنفس کې ستونزه

تر پوښتیو لاندې په شا کې د پښتورګو درد

په ادرار کې د لیدو وړ وینه

خورا سوړ پوست

## له خپل عمومي معالج (GP) یا لاندې مورد سره اړیکه ونیسئ

**GP** (شمالي ایرلنډ)

**ډایل کړئ 111** (سکاټلنډ)

**NHS 111** (انګلستان او ولز)

www.111.nhs.uk www.111.wales.nhs.uk

www.nhs24.scot

**په خپل شعور باور ولرئ، سلا مشوره وغواړئ، که ډاډه نه یاست چې نښې نښانې مو څومره عاجلې دي**

TARGET د انګلستان د روغتیایي امنیت اداري لخوا پرمخ وړل کیږي. د مسلکي طبي ارګانونو په همکارۍ رامنځته شوی. 1.1 نسخه، د 2021 کال مارچ، بیاکتنه: د 2023 کال مارچ